اداریه

بسم الله الرحمن الرحیم

# د فخرِ افغان او خان عبدالولي خان

# د کاروان نوے مرام

هر کال د جنورۍ میاشت کښې د فخرافغان خان عبدالغفار خان باچاخان او خان عبدالولي خان د وفات ورځ نمانځلے کېږي. په دې موقعه نوموړو ته د عقیدت پېرزونې وړاندې کېږي او د هغوي ملي خدمات ستائیلے شي. دستورې او غونډې کېږي. دې سلسله کښې لیکوال د دې سترو ملي مشرانو یادونه را تازه کوي. مقررین خپل خیالات څرګندوي او شاعران ور ته منظومې پېرزونې وړاندې کوي.

دا هر څه یو ښه د قدر وړ روایات دي. ژوندي قامونه تل خپل ملي اتلان رایادوي او د هغوي د کارنامو ستائینه کوي. د هغوي په شخصیت فخر او ویاړ کوي. او د هغوي خدمات صرف د یو داستان په شکل کښې نوي نسل ته نۀ بیانوي بلکې هغوي چې د کومو مقاصدو د حصول دپاره مبارزې کړې وي. د سرونو او مالونو قربانۍ ئې ورکړې وې. هغه مقاصد مخې ته راولي او د نوي نسل مخې ته ئې ږدي.

قامونه د خپلو مشرانو کامیابۍ او ناکامۍ دواړه په ګوته کوي. د ګټو او تاوانونو د وجوهاتو نه نوے نسل خبروي. او د قام اتلانو او مشرانو چې کوم کاروان روان کړے وي هغه اودرېدو ته نۀ پرېږدي بلکې په مخکښې ئې بیائي ځکه چې ملي کاروانونه کله هم په ځائې نه اودرېږي. که دا یو ټاکلي مرام ته اورسي نو ورپسې بل مرام هم ټاکلے شوے وي ځکه چې د ژوند قافله همېشه مخ په وړاندې روانه وي. دا اودرېږي نه. د هغه قام قافله په ځائې اودرېږي کوم قام چې اوده شي. د ویښو قامونو قافلې مسلسل روانې وي.

فخرافغان چې د کوم کاروان مهار خپلو لاسو کښې اخستے ؤ دا هم هغه کاروان ؤ کوم چې لوئې احمدشاه بابا روان کړے او هغه ته دا کاروان د میرویس نیکۀ، د لوئې خوشحال خان خټک او پیر روښان نه په ملي وراثت کښې پاتې ؤ. ولې باچاخان دې کاروان ته یو نوے جرس پېدا کړو چې اواز ئې د یو محدود ځائې نه د پښتنو لر و بر ته اورسېدو بلکې د دې جرس انګازې د سمندر پورې استعماري دښمن ایوانونه هم صرف ونه کړنګول بلکې د دې انګازو زور دغه واکمن محلونه اولړزول. د فخر افغان قافلې نه په لاره لاره که څوک پښه نیولے شوے هم دے ولې د هغې څو چنده نوي پښتانه د نوي فکر،نوي سوچ،د نوي جوش او جذبې سره د دې کاروان ملګري شوي دي. دا ولې؟ دا ځکه چې باچاخان سره یو نوے سوچ ؤ یو نوے فکر ؤ. فخر

افغان پښتانه د قبائيليت نه مليت ته په عملي توګه راواړول. يعني کوم ارمان چې پيرروښان او خوشحال خان خټک د ځان سره ګور ته اوړے ؤ هغه ارمان احمد شاه بابا تر څه حده خو پوره کړو ولې فخرافغان پښتانه د دې جوګه کړل چې ځان ئې د يو جديد ملت په حيثيت دنيا ته ور اوپېژندل.

اوس چې پښتانه لوئي او ماډرن نړې وال کلي کښې يو محلت لري. دوي ځان روستو پاتې او پسمانده ساتلو ته تيار نۀ دي. د دوي پښتو او پښتونولۍ نوے رنګ اخستے دے. د دوي باچاخان او د دوي خان عبدالولي خان په خپل ژوند تل د شريک هندوستان،افغانستان او بيا روستو د پاکستان د مترقي او جمهوري آوازونو سره خپل پښتني اواز يو ځائې کړے دے. تل ئې ترقۍ او پرمختګ ته هرکلے وئيلے دے. او د دنيا کوم ګوټ کښې چې کوم قوم د ترقۍ،علم او پوهې مظاهره کړې ده فخرافغان او خان عبدالولي خان پښتانه هم د دغه قوم د سيال ګرزولو کوششونه کړي دي. خان عبدالولي خان تل د جرمني د شکست او تاوان ذکر کړے دے خو ورسره ئې د جرمن قوم د بېدارۍ،محنت او علم او پوهې ستائينه هم کړې ده او پښتنو ته ئې د جرمني د سر دوباره آبادۍ،ودانۍ او خوشحالۍ او سوکالۍ مثال وړاندې کړے دے.

پښتانه نه يو زړۀ ور او مارشل قوم ګڼلے کېږي او د جنګ د مېدان شاهسواران مشهور دي ولې دا هم يو حقيقت دے چې دوي چې څومره بهادري او مړانه کړې ده نو د خپل ملت دپاره نه د نورو دپاره ئې خپل هر څه قربان کړي دي. او باچاخان د دوي دغه کمزوري تل په ګوته کړې ده .

پښتانه اقتصادي توګه باندې دومره کمزوري دي چې د بل د اقتصاد محتاجه دي حتی چې په خپله خاوره ئې د ټاټکي مزدوري هم نشته. د مزدورۍ دپاره هم وطن پرېږدي. پښتانه بې هنره دي. او که هنرمند هم شي نو دا هنر ئې د نورو په کار راځي. بايد چې مونږ دا حقيقت ومنو چې صرف د باچاخان او خان عبدالولي خان په يادولو او د هغوي د خدماتو په ستائيلو مونږ په وړاندې نه شو تلے. بلکې د نوي دور د تقاضو په رڼا کښې به مونږ خپل زراعت نه تجارت او صنعت جوړوو. تعليم به د ترقۍ پوړۍ ګڼو. هنر او فن به قامي خصوصيت جوړوو. په خپله خاوره به خپلو خواري کښو ته د روزګار لارې چارې پېدا کوو. کارخانو او صنعتي ترقۍ سره به خپل قومي اقتصاد ترو.

زمونږ خوينـدې مياندې هم د دې قوم نيمه برخه ده. بايد چې مونږ خپل کورونه نور د جيلونو په شان ونه ساتو بلکې د دې نه د علم،پوهې،هنر او فن مدرسې جوړې کړو. که چرې مونږ د فخرافغان او خان عبدالولي خان کاروان په مخ بوتلل غواړو او دا مو مقصد وي چې زيات نه زيات پښتانه د دې کاروان ملګري کړو نو بايد چې د عالمي حالاتو په رڼا کښې د نوي فکر په وسله ځانونه پوره کړو.